# په چا کې چې ځلور خصلتونه وي هغه سوچه منافق دی او په چا کې چې له دغو څخه یو خوی هم وي په هغه کې د نفاق یو خوی دی تر دې چې پرې یې ږدي: کله چې خبرې کوي درواغ وایي او کله چې تړون وکړي ماتوي یې، کله چې وعده وکړي وعده خلافي کوي او کله چې شخړه وکړي کنځلې کوي

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «دا ځلور ځانګړنې دي چې په چا کې وي منافق دی، او که له دغو ځانګړنو څخه یوه هم په کې وه، نو د منافقت یوه ځانګړنه به پکې وي تر دې چې پرې یې ږدي: کله چې خبرې کوي، دروغ وایي، کله چې وعده کوي، وفا پرې نه کوي، کله چې شخړه کوي سپکې سپورې وایي، او کله چې تړون وکړي نو خیانت کوي».
[صحیح دی] [البخاري او مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځلورو ځانګړتیاوو په اړه خبرداری ورکړی چې که په یو مسلمان کې سره یو ځای شي نو د دې ځانګړنو له امله به له منافق سره ورته والی ولري او دا په هغو کسانو تطبیقیږي چې دا ځانګړتیاوې پرې غالبه وي، او په چا کې چې په نادره توګه وي هغه پکې شامل نه دي، هغه ځانګړتیاوې دا دي: لومړی: کله چې په قصدي توګه دروواغ وایي او په خپلو خبرو کې رښتینی نه وي. دویمه: کله چې تړون وکړي عمل پرې نه کوي او د مقابل لوری سره خیانت کوي. دریمه: کله چې ژمنه وکړي وفا پرې نه کوي، بلکې وعده خلافي کوي. څلورمه: کله چې چا سره شخړه کوي نو شخړه یې ډېره سخته وي او له حق څخه انحراف کوي او ورڅخه د منکرېدو لپاره یې چل کوي، او تل باطل او دروغ وایي. نفاق د یو څه ښکاره کولو ته وایي چې خلاف یې پټوي او دا معنی په هغه شخص کې شتون لري چې دا ځانګړتیاوې لري، او منافقت یې د هغه چا په حق کې دی چې خبرې یې ورسره کړي، وعده یې ورسره کړې، امانتدار یې ګرځولی، شخړه یې ورسره کړې او یا یې ورسره کوم تړون کړی دی، نه دا چې په اسلام کې منافق دی؛ چې اسلام ښکاره کوي په داسې حال کې چې په پټه کافر وي، نو په چا کې چې لدې ځانګړتیاوو څخه یوه وي، د منافق له خویونو څخه به پکې یو خوی وي تر دې چې پرې یې ږدي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66537